مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هاجره حرکت
۲۰۲۱/۱۱/۲۵

# ورکه لاره

زړه کې مې د شین سمندر ځاله ده
ونـه پـسرلي تـه شـنـه ولاړه ده

ما ګڼل د ستورو هـار به وپیـو
موږ نه خو دانو کې ورکه لاره ده

څه له جالوان خلک تل کرم ګني
سیند کې د څپو مهار لا ګرانه ده

مور د وطن وایي رانه لري ځئ
زغلئ چي مو ځغاسته بې ارمانه ده

دم په دم خیالونو کې بدلون راغي
پـتو دسیسو په لور روانه ده

سترګي غرور خو راته نه ښکاري
لا د پـیـژنـدو سترګه نـاتـوانـه ده

ولي په توپیر کې موږ کمزوري یو
واک نـښـه کـونکو تـه آسـانـه ده

هغو چي یوازې خپل ځان غوښته
یوه شو تولـه کړنه بې ایمانه ده

حرص و د قارون چي زمکي لاندې کړ
تمه يې جلا له هر انسانه ده

حال د وطن زړه راته داغلی دی
هر سهار ژړا مې تر ماښامه ده

نه کوي شیبه مې پر بـنـو دمه
غم کې د لالي سر تر ګریوانه ده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ